# په چاپېریال ساتنه کې د عامه پوهاوي اهمیت او د اغېزمنو پېغامونو ضرورت

## لیکوال: میوند امن

په افغانستان کې د چاپېریال ساتنې په برخه کې عامه پوهاوی په هغه کچه نه دی تر سره شوی، چې اړتیا یې ده، څومره چې تر سره شوی، هغه بیا اغېزمن نه دی تمام شوی، علت یې دا دی چې د عامه پوهاوي په برخه کې د خپرېدونکو پیغامونو ژبه یا عادي ورځنۍ ژبه ده یا هم نصحیت ډوله جملې دي چې پر خلکو چندان اغېز نه کوي. په دې برخه کې اغېزمنو لارو او اغېزمنې ژبې ته اړتیا ده.

په دې مقاله کې پورته اړتیا ته په پام د چاپېریال د لنډې پېژندنې تر څنګ، د چاپېریال د ککړتیا عواملو ته سرسري اشاره شوې ده، ورپسې د چاپېریال په ساتنه کې د عامه پوهاوي اهمیت په ډاګه شوی دی، همدا راز د اغېزمنو پیغامونو د لیکلو او خپرولو لارې چارې بښودل شوي دي.

**کلیدي کلمې**: چاپېریال ساتنه، د ککړتیا عوامل، د خلکو بې غوري، عامه پوهاوی، د عامه پوهاوي ژبه.

هر چېرته چې ژوندي موجودات اوسېږي، خوا او شا ته یې چاپېریال وایو. غرونه، ونې، ځنګلونه، کانې، بوټي هوا او فضا ټول په چاپېریال کې راځي، چې د ژوندیو موجوداتو پر ژوند اغېز لري.

چاپېریال زموږ له ژوندانه سره نېغه اړیکه لري، که چاپېریال مو ښه او پاک ساتلی و، موږ به هم د ښه او هوسا ژوند خاوندان یو، خو که چاپېریال ته مو پاملرنه نه وي کړې، موږ به هم له سلو بدمرغیو سره لاس او ګرېوان یو.

د ونو، بوټو، ځنګلونو او اوبو پرېماني، د ښه او پاک چاپېریال ضامن دي، خو له بده مرغه چې په افغانستان کې دا هر څه په کمېدو دي. د نقلیه وسایطو ډېر والي، د ډبرو سکرو، پلاستیکونو او ربړونو سوځولو، د ونو وهلو او اوبو بې ځایه لګولو زموږ چاپېریال ته ستر ګواښ پېښ کړی دی، په دې کې به ګڼ عوامل دخیل وي خو تر ټولو ستر لامل یې د عامو خلکو بې غوري او بې پروایي ده.

همدا عام خلک دي چې واوره یې د کورو مخې ته په پخو ځایونو کې ضایع کېږي مګر لږ زحمت نه باسي چې په خامه ځمکه کې یې واچوي، تر څو جذب شي او د ځمکې لاندې د اوبو سطحه ورسره لوړه شي. همدا عام خلک دي چې د یو پر ځای دوه او درې موټره

ګرځوي او لنډو ځايونو ته هم په موټر کې ځي. همدا عام خلک دي چې که لږ شتمن او عصري سړی پر بايسکل وګوري بيا يې مسخره کوي، ملنډې پرې وهي او کنجوس يې يادي.

عام خلک ولې بې غوري او بې پروايي کوي؟

يو علت يې بې سوادي او کم سوادي ده. د افغانستان اکثريت خلک نا لوستي دي، د چاپېريال ساتنې پر اهميت او مهموالي نه پوهېږي. دوی ته د خځلو بې ځايه غورځول، د اوبو بې ځايه لګول، د مضرو سون توکو سوځول او نور بې تفاوته دي.

ستونزه يوازې د نالوستو نه ده، ګڼ لوستي مو هم چاپېريال ساتنې ته پام نه کوي او په پوره بې تفاوتۍ د چاپېريال په ککړتيا کې برخه اخلي. علت يې دا دی چې اکثره افغانان عادتي ژوند کوي، دوی همداسې عادت شوي دي.

بل علت يې دا دی چې خلکو ته فردي ګټې مهمې دي، له ټولنيزو او ټوليزو ګټو يا نه دي خبر يا ورته مهمې نه دي، خو دې ته يې پام نه دی چې که د يو ملت ټوليزې ګټې له خطر سره مخ شي، ورو ورو زموږ فردي ګټې هم له ګواښ سره مخ کېږي.

د دې ټولو تر څنګ، د عامه پوهاوي د اغېزمنو پروګرامونو نشتوالی يې هم اساسي علت کېدای شي.

د دې لپاره چې يادې ستونزې هوارې شي او خلکو ته چاپېريال ساتنه په يو ارزښت بدله شي، د نورو مهمو کارونو تر څنګ اړين او اغېزمن عامه پوهاوي ته اړتيا ده او د عامه پوهاوي په برخه کې له لازمو او اغېزمنو لارو چارو ګټه اخيستل پکار دي.

تر اوسه مې د عامه پوهاوي په اړه ګڼ پيغامونه لوستي او اورېدلي دي، مګر چندان اغېز يې راباندې نه دی کړی، ځکه چې دا پيغامونه د وعظ و نصيحت په ډول دي، د انسان فطرت داسې دی چې نصحيت نه خوښوي، پکار ده چې په نورو بديلو پيغامونو فکر وشي او په دې برخه کې د نظر له خاوندانو او اديبانو سره مشوره وشي.

د دې پر ځای چې ليکو: د ونو او بوټو وهل ښه کار نه دی، پکار ده چې له ونو او بوټو سره وليکل شي: **موږ هم ژوندي يو، موږ مه وژنئ!**

د دې جملې اغېز تر لومړۍ هغې څو چنده زيات دی. يا د دې جملې پر ځای چې: د ونو او بوټو پالنه او ساتنه زموږ د ټولو دنده ده، ښه ده چې د ونو، بوټو يا ځنګلونو تر څنګ وليکل شي: موږ **هم لکه اولاد وپالئ!**

د دغو جملو اغېز ځکه ډېر دی چې احساسات او عواطف مو راپاروي او دا جملې مو د ذهن او عقل پر ځای زړه ته راجع دي.

د ښه، پاک او سالم چاپېریال د رامنځته کولو، او چاپېریال ته د راپېښو خطرونو د دفع کولو لپاره پکار ده چې د عامه پوهاوي په برخه کې لاندې کارونه تر سره شي.

۱. **د عامه پوهاوي اغېزمن پیغامونه خپرول**: حکومت دې د عامه پوهاوي په برخه کې اغېزمن پیغامونه خپاره کړي. که موږ له ونو او بوټو سره پر لوحو لیکو چې: **د ونو وهل ښه کار نه دی!** یا **د ونو ساتنه او پالنه زموږ د ټولو مسوولیت دی!**
دا خبرې پر خلکو چندان اغېز ځکه نه لري چې نصحیت ډوله جملې دي، د انسان خاصه داسې ده چې نصحیتونه نه خوښوي او نه پرې چندان تاثیر کوي، خو که د پورته جملو پر ځای د شاعر دا بیت ولیکو، ګڼ خلک به مو اغېزمن کړي وي:

**دا څومره لوی ستم دی چې د ګل پاڼه زخمي شي**

**دا څومره لوی تاوان دی چې غمی د شبنم مات شي**

د. درانی

دا شعر مو پر ونو او بوټو ترحم ته رابولي، تاثیر یې ځکه تر لومړنیو جملو زیات دی چې یو خو مسقیم نصیحت نه دی، بله دا چې شعر دی او شعر په نظم کې وړاندې کېږي، د انسان فطرت داسې دی چې نظم خوښوي. د نظم تر څنګ تر ټولو مهمه خبره دا ده چې انسانان ډېر ځله یوازې ژوندیو شیانو ته یا خپل همنوعه ته ضرر نه رسوي، شاعر په دې بیت کې لومړی ګل ژوندی ګڼلی دی او انساني ځانګړنه یې ورکړې ده، د ګل پاڼه زخمي کېدل، چې وایو لکه ګل چې انسان وي. د شبنم غمی ماتېدل هم همداسې یوه جمله ده.

دغه راز که د ځنګلو تر شا او خوا پر دړو او لوحو ولیکو چې:

**ما ته د غرونو د مرغو له غمه خوب نه راځي**

**چې څوک ظالم چېرته په غرونو کې نښتر ووهي**

صاحب شاه صابر

زه باوري یم چې ډېر کلک زړی انسان به هم پر ونو او بوټو رحم او ترحم ته راوبولي او د ونو له وهلو او پرې کولو به لاس واخلي.

د کاروان صاحب دا بیت خو بیخي سړی ژړوي.

**مرغان دې راشي زموږ لپو کې دې ځالې وکړي**

**غر مو نښتر نه لري کلی مو چینار نه لري**

دا بیت د انسان په لاس د تبا شوي ځنګل کیسه کوي، خو مستقیم نصحیت نه دی او نه هم د لرګو قاچاقبر ته مخامخ خبره کوي، یوازې تر تبا شوي ځنګل وروسته بدمرغي انځوروي او دا دومره اغېزناکه ده چې آن ژړوي مو.

په عادي او ورځنۍ ژبه د پیغامونو لیکل ځکه اغېز نه لري چې له ورځنۍ ژبې سره عادت شوي او عادي شوي یو، هر شی چې عام او عادي شي، اغېز یې کمېږي. د شعر اغېز ځکه ډېر وي چې ژبه یې له ورځنۍ یا اخباري ژبې سره توپیر لري، په شاعرانه ژبه کې دا ځواک شته چې مړه او بې سا شیان هم ژوندي وښيي، خو په ورځنۍ ژبه کې دا چاره ناممکنه ده، او کوم شیان چې ژوندي ښودل کېږي هغو ته په اسانۍ څوک ضرر نه رسوي.

په شعرونو کې ونې، بوټې، ځنګلونه، اوبه او نور ټول بې سا شیان لکه انسانان ژوندي ښودل کېږي.

ونې او بوټي ژاړي، اوبه او مرغان سندرې وايي، پاڼې او څانګې نڅېږي او ډېوالونه غوږونه لري.

دا ټول انساني خصوصیات دي، کله چې دا انساني خصوصیات نباتاتو او حیواناتو ته ورکول کېږي، د خلکو مینه ورسره پیدا کېږي، د انسان همدردي او خواخوږي راجلبوي او هغو ته له ضرر رسولو لاس اخلي.

حکومت دې د عامه پوهاوي په برخه کې دغسې شعرونه او نورې اغېزمنې جملې د ځنګلونو تر څنګ او نورو عامه ځایونو کې پر لوحو او بېنرونو ولیکي، چې خلک اغېزمن کړي او چاپېریال ساتنې ته پاملرنه وکړي.

۲. **په ښوونځیو کې د چاپېریا ساتنې مضمون:** په ښوونځیو کې دې لږ تر لږه له لومړي تر اتم ټولګي پورې د چاپېریال ساتنې مضمون تدریس شي. د هر ټولګي مطالب باید د هغوی سویې ته په پام ولیکل شي. له لومړي تر څلورم ټولګي پورې د مطالبو ژبه باید بیخي ساده او ماشومانه وي، کوښښ دې وشي چې ډېر مطالب پکې د نظم په ډول ځای کړی شي. مثلاً داسې وزن لرونکې جملې دې پکې شاملې شي:

ګرانه خیال کوه اوبه لږې لګوه

لوبې دې کوه ونې مه راماتوه

پاک څېزونه خوره ځمکه مه چټلوه

۳. **جوماتونه**: په اسلامي هېوادونو، خصوصاً افغانستان کې ممبر د پیغام رسولو مهمه وسیله ده، د عامو خلکو خبره هغومره تاثیر نه کوي څومره چې د ملایانو او مذهبي مشرانو کوي.

د چاپېریال ساتنې اداره دې د حج او اوقافو له وزارت سره په ګډه ټولو ملا صاحبانو ته د چاپېریال ساتنې موضوعات ورکړي او د جمعې د ورځو په خطبو کې دې خلکو ته د چاپېریال ساتنې ارزښت تبلیغ کړي.

۴. **ډرامتیک راډیویي اعلانونه**: تر عادي اعلانونو او خبرو، ډرامتیک پیغامونه ډېر اغېز لري. په راډیو او تلویزیون کې دې د ډرامې په بڼه د عامه پوهاوي پیغامونه خلکو ته ورسول شي.

۵. **نقلیه وسایط او عامه پوهاوی**: د چاپېریال ساتنې اداره دې په خپل لګښت د موټرو او ریکشاو پر شا د عامه پوهاوي لنډ لنډ پیغامونه ولیکي، د دې کار ګټه به دا وي چې هر وخت او هره لحظه به خلک دا پیغامونه لولي او له دې سره به یې چاپېریال ساتنه له پامه نه لوېږي.

۵. **د عامه پوهاوي ګرځنده ډلې**: مسوولې ادارې دې د عامه پوهاوي لپاره ګرځنده کسان وګوماري چې په کلیو، ولسوالیو او ښارونو وګرځي او خلکو ته له نژدې د چاپېریال ساتنې پیغام ورکړي. په دې ګرځنده ډلو کې دې هڅه وشي چې داسې کسان وګومارل شي چې د خبرو فصاحت او بلاغت ولري او هر چا سره د هغوی په ژبه خبرې وکړي.

که موږ نالوستو سپین ږیرو ته وایو چې (**زه د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي لپاره راغلی یم**) په دې جمله هغوی نه پوهېږي. هغوی نه چاپېریال پېژني او نه عامه پوهاوی. هغوی ته باید وویل شي: موږ راغلي یو چې له تاسو سره د ونو او بوټو په ساتنه او پالنه خبرې وکړو او له تاسې سره د اوبو او حیواناتو په اړه ضروري خبرې شریکې کړو.

۶. **ځنګلونه او خلک:** چېرته چې ځنګلونه دي، حکومت دې د سیمې ځایي خلکو ته د عامه پوهاوي ځانګړي پروګرامونه جوړ کړي او هغوی ته دې د ځنګلونو پر ارزښت او اهمیت خبرې وکړي. ځنګلونو ته څېرمه مېشتو خلکو ته دې د هغوی په ژبه د ځنګلونو د ګټو او ارزښت تر څنګ د ځنګلونو د وهلو او له منځه وړولو تاوانونه بیان شي.

۷. **ټولنیزې رسنۍ او عامه پوهاوی**: نن سبا ډېری خلک ټولنیزې رسنۍ (فیسبوک، ټویټر، انستګرام او ...) ډېر کاروي. مسوولې ادارې دې د عامه پوهاوي ځانګړې پاڼې جوړې کړي او هلته دې د ځنګلونو، اوبو، ونو او بوټو او د پاک چاپېریال پر ارزښت لیکنې، غږیز کلیپونه او ویډیوګانې خپرې کړې کړي.

۸. **د چاپیریال ساتنې سیالي:** د چاپیریال ساتنې اداره دې دغسې او دې ته ورته نورې اوږد مهاله سیالۍ پیل کړي چې خلک وهڅېږي او چاپیریال ساتنې ته یې پام را واوړي. مثلاً دوی دې له خلکو وغواړي چې د چاپېریال ساتنې په برخه کې ډراماتیک راډیویي او انځوریز پیغامونه جوړ کړي، د هر چا پیغام چې ښه و، جایزه ورکوي. له دې سره به له یوې خوا دې ادارې ته غوره پیغامونه په لاس ورشي له بلې خوا به خلک د چاپیریال ساتنې له موضوع سره سره بلد شي او بیا به ورته ډېر پام کوي.

د عامه پوهاوي مسوولین کولای شي چې په ټوله کې د دغو لاندې موضوعاتو په اړه عامه پوهاوی تر سره کړي:

- **د ونو او بوټو کرل**
- **د ځنګلونو ساتل**
- **خځلې په خپلو ځانګړو ځایونو کې غورځول**
- **د اوبو د بې ځایه لګښت څخه ډډه کول**
- **په کورونو او دفترونو کې د اوبو د جذبېدو لپاره خامه ځایونه پرېښودل**
- **پر کرنیزو ځمکو له ابادۍ څخه ډډه کول**
- **پر بایسکلونو او پلی تګ**
- **د بندونو او ډنډونو ګټې او ساتل**

پای

**یادونه:** زه حاضر یم چې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې د عامه پوهاوي له برخې سره د غوره او مهمو پیغامونو په لیکلو کې مرسته وکړم.